# د افغانستان اسلامي امارت

ټولګټو وزارت – وزارت فواید عامه

رسنیز دفتر – دفتر مطبوعاتی

# د ۱۴۴۶ هـ.ق. کال د فعالیتونو، پرمختګونو او لاسته راوړنو راپور










مقدمه: 2
لنډیز: 3
سروې او ډیزاین: 3
تر کار لاندې پروژې: 5
د کابل – کندهار لویه لاره: 6
د سالنګونو لویه لاره: 7
د کابل – جلال آباد لویه لاره: 8
د کابل – غزني دویم لین سړک: 8
دویم اوسپنې پټلۍ: 8
ساتنه او څارنه: 8
دویم د اوسپنې پټلۍ( ساتنه او څارنه): 11
جوماتونه: 11
په لویو لارو اوسړکونو کې د ترافیکي نښنو او ګارد ریلونو نصبول: 12
د لویو لارو او سړکونو په اوږدوکې تلې( ترازوګان): 14
اوسپنې پټلۍ 14
سفرونه: 15
هوکړه لیکونه( تفاهم نامې): 16
فعالیتونه: 16
انتقالات: 16
ظرفیت لوړونه او کار زده کړه: 17
کاري فرصتونه: 17
د واورو پاکول: 17
پلانونه: 17
کلیدي پیغامونه: 19

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه:

ټولګټو وزارت د افغانستان له مهمو سکټوري وزارتونو څخه ګڼل کېږي، چې د زیربنایي پروژو پلي کولو، د سړکونو، اوسپنې پټلۍ، پلونو، تونلونو، ساتنې او څارنې او د لویو لارو په اوږدو کې د جوماتونو جوړولو او د ترافیکي علایمو د نصبولو مسؤلیت پرغاړه لري. دا وزارت د هېواد د اقتصادي ودې،

ترانسپورتي اسانتیاوو برابرولو او د ولایتي، مرکزي، ولسوالیو او کلیو ترمنځ د اتصال اساسي دنده پرمخ وړي.

د یاد وزارت موخه دا ده، چې د ملي پراختیا، سیمه ییز توازن، او دوامدارې ودې په برخه کې اغېزمن خدمتونه وړاندې کړي. دا وزارت د خپلو تخنیکي کارپوهانو او د نړیوالو همکارو شرکتونو په همغږۍ، د عصري میتودونو او ټیکنالوژۍ په کارولو، هڅه کوي، چې د هېواد زیربنایي اړتیاوې پوره کړي او د خلکو د ژوند معیار لوړ کړي.

ټولګټو وزارت د ځمکني خوندي او معیاري ترانسپورتي زیربناوو شبکې رامنځته کولو او د ملي او سیمه ییزې ترانسپورتي پراختیا دنده پرغاړه لري او د درنو هېوادوالو د هوسا تګ راتګ، د تجارتي او زراعتي توکو د خوندي لېږد رالېږد په موخه خوندي، باکیفیته او پایداره ترانسپورتي زیربناوې رامنځته کوي او اقتصادي او ټولنیزي پیاوړتیا ته زمینه برابروي.

یاد وزارت په ټول هېواد کې د سړکونو شبکې پراخولو ته لومړیتوب ورکوي، ځکه چې بشپړه ترانسپورتي شبکه د سوداګرۍ، کرنې، روغتیا، ښوونې او روزنې او ټولنیز پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري. دغه وزارت د لویو لارو، فرعي سړکونو او د ولسوالیو ترمنځ د نښلونکو لارو جوړولو ته ځانګړې پاملرنه او دوامداره ساتنه او څارنه کوي، ترڅو د هېواد دننه تګ راتګ اسانه شي.

په ټوله کې، ټولګټو وزارت د افغانستان د اساسي بیارغونې او پراختیا لپاره یو مهم او بنسټیز ارګان دی، چې د عام المنفعه بنسټونو د جوړولو او پیاوړې کولو له لارې، د هېواد د اقتصادي ثبات او سوکالۍ لپاره هڅې کوي.

ټولګټو وزارت په ۱۴۴۶هـ.ق کال کې په ټولیزه توګه ۳۰۷۸ تنه پرسونل درلود، چې ۹۲۲ تنه یې مرکزي او ۲۱۶۵ تنه ولایتي پرسونل دی؛ همداراز د ۱۴۴۶هـ.ق کال په جریان کې ټولګټو وزارت ټولټال ۴۰۱ تنه کارکوونکي نوي مقرر او ګمارلي دي، چې ۲۳سلنه یې مسلکي، ۲۲ سلنه یې د ادارې او مدیریت په برخه کې او پاتې ۵۵ سلنه یې په تخنیکي او خدماتي برخه کې ګمارل شوي دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**لنډیز:**
د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو وزارت په تېر ۱۴۴۶هـ.ق کال کې د سړکونو، پلونو پلګوټو، وسپنیزې کربښې، ساتنې او څارنې، واورو پاکولو، جوماتونو، د ترافیکي علایمو د نصبولو ا ود اجناسو په برخه کې د څه باندې ۲۰۰ پروژو رغنیزې او ترمیماتي چارې پیل کړي چې ۵۴ یې د سړکونو او اوسپنیزې کربښې، ۱۶ د لویو لارو او سړکونو د خوندیتوب په برخه کې، ۱۴ یې د جوماتونو، ۱۴ د واورې پاکولو، ۵۰ د سړکونو او اوسپنې پټلۍ د ساتنې او څارنې او ۵۴ پروژې د اجناسو د تدارکاتو په برخه کې دي چې دا مهال یې د زیات شمیر پروژو کار بشپړ شوی او د ځینو نورو کار په چټکۍ سره جریان لري.

**سروې او ډیزاین:**
**۱ـ سړکونه او پلونه:**

د ټولګټو وزارت له لوري په ۱۴۴۶ هـ.ق. کال کې د ۱۰۲۱ کیلومتره سړکونو د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجی سروې بشپړه شوې ده، چې د ۳۵۰ کیلومتره سړک د توپوګرافي سروې او د ۱۲۶,۵ کیلومتره سړک د ډیزاین کار بشپړ شوی دی او د ۱۳۹۵ کیلومتره سړک ډیزاین تر کار لاندې دی، چې (۶۶٪) سلنه کاري پرمختګ لري. د ۱۷ پايې پلونو ډیزاین ترسره شوی، چې ټولیز اوږدوالی یې ۱۰۶۹ متره کیږي او همداراز د ۱۲۳۴ پایو پلګوټو ډیزاین بشپړ شوی دی.

د سروې او ډیزاین ریاست د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجی سروې، تخنیکي سروې او پروژو ډیزاین په برخه کې د بشپړ شویو او تر کار لاندې پروژو تفصیلي معلومات په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- **د سړکونو د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجی سروې:**

ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د کندوز – دشت ارچي ۲۰ کیلومتره سړک، د ترینکوټ – خاص ارزګان د ۸۰ کیلومتره سړک او د بلخ آب – سنګ چارک ۱۰۰ کیلومتره سړک په ګډون د ۲۲ پروژو د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجی سروې کار په بېلابېلو فیصدیو سره ترسره کړې دي، چې د ګڼ شمېر پروژو چارې سل سلنه بشپړې شوې دي.

- **د سړکونو او پلونو توپوګرافي سروې:**

ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د سړکونو او پلونو د توپوګرافي سروې په برخه کې د کابل – غزنی دویم لین ۵۴ کیلومتره سړک، د کابل – جلال آباد دویم لین ۵۲ کیلومتره سړک ، د کنړ ولایت غازي آباد ولسوالی ۱۴/۵ کیلومتره سړک او په هرات ولایت کې د پروانه پل، ده شیخ پل او ماهي فروشانو پل په ګډون د ۲۱ پروژو د توپو ګرافي سروې چارې بشپړې کړې دي.

- **د سړکونو د ډیزاین برخه:**

ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د کندهار – ارزګان سړک، د لوګر – میدان وردګ سړک، د جوزجان ولایت د قوشتیپې – درزاب سړک او د پکتیکا ولایت د بنرنې متاخان – زرمت سړک په ګډون د ۴۰ پروژو د ډیزاین چارې په بېلا بېلو پرمختګونو سره جریان لري چې ګڼ شمېر پروژې یې د بشپړېدو په حالت کې دي.

- **د پلونو او سترکچرونو د ډیزاین برخه:**

ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د پلونو او سټرکچرونو د ډیزاین په برخه کې د کنړ – نورستان عمومي سړک، د کندهار ولایت معرف – ارغستان سړک، د هلمند ولایت لوی مانده رغنیز پل چې ۷۰ متره اوږدوالی لري او د هلمند ولایت کجکي ۲۸۰ متره اوږد پل په ګډون د ۲۲ پروژو د سټرکچرونو د ډیزاین چارې جریان لري چې د ګڼ شمېر پروژو چارې یې بشپړې شوې دي.

**۲- د اوسپنې پټلۍ د سروې او ډیزاین برخه:**

1. د خواف-هرات د ځلورمې قطعې د دویم فاز د ۴۷,۳ کیلومتره اوسپنې پټلۍ تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین د ایران د مهندسین مشاور قراردادي شرکت لخوا بشپړ شوي دي.
2. د تورغونډۍ – هرات د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۱۳ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.
3. د کندهار – سپین بولدک د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، د ۹۶ کیلومتره په اوږدوالي سره له خصوصي سکټور سره قرارداد شوی دی.
4. د اندخوی – شبرغان د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۵۵ کیلومتره دی، له ترکمنستان سره پرې مذاکرات روان دي.

د ۱۴۰۱ د ټولګټو وزارت له لوري د هرات-کندهار د (۷۳۷/۵) کیلومتره اوسپنې پټلۍ د تفصیلي ډیزاین اړوند (۵) تړونونه د شاوخوا (۲۶۴) میلیونه افغانیو په ارزښت له پنځو شرکتونه سره لاسلیک شوي دي، چې په لاندې ډول دي:

5. د هرات – شینډنډ د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۲۰ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.
6. د شینډنډ – فراه د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۲۰ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.
7. د فراه – امیران – زرنج – غورغوري د اوسپنې پټلۍ پروژې د امکان سنجی مطالعات، تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۸۸/۸ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.
8. د غورغورې – لشکرګاه د اوسپنې پټلۍ پروژې د امکان سنجی مطالعات، تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۷۱ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.
9. د لشکرګاه – کندهار د اوسپنې پټلۍ پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۱۳۷/۷ کیلومتره دی، دامهال یې چارې جریان لري.

### تر کار لاندې پروژې:

لومړی سړکونه:

ټولګټو وزارت دامهال ۱۱۵۶ کیلومتره سړکونه تر کار لاندې لري، چې بودیجه یې د ۱۴۰۱، کانونو او ټولپلازا څخه تمویل کیږي:

1. د کندهار- ارزګان لویې لارې ( د جنوب – شمال دهلیز) ۲۰۹ کیلومتره سړک د لومړي لاټ ۱۳ کیلومتره سړک د آسفالټ اچونې چارې ۶۶ سلنه بشپړې شوې دي، چې په اوږدو کې یې د ۳۰۰ متره استنادي دېوالونه، ۲۱ پایې پلګوټې، د ۵۰۰ متره د سړک غاړې ویالو او ۲۰۰ متره سنګ فرش ویالو د رغونې کار هم بشپړ شوی دی.
2. د قوشتیپه – درزاب د څه باندې ۵۱ کیلومتره سړک د بلډ ډیزاین چارې په دریو برخو کې قرارداد شوې دي او کار یې عملاً جریان لري. لومړي لاټ یې ۱۹,۸ کیلومتره اوږدوالی لري، چې د سړک په یاده برخه کې ۸۵۰ متره استنادي دېوال، ۴۸ پایې پلګوټې او د ۲ لویو پلونو کار شامل دی.
3. دویم لاټ یې۱۷,۴ کیلومتره، چې په یاده برخه کې د ۱۷۸۴ متره استنادي دېوال او ۵۴ پایې پلګوټو کار هم شامل دی.
4. د قوشتیپه – درزاب سړک دریم لاټ ۱۴ کیلومتره اوږدوالی لري چې د سړک په یاده برخه کې د ۲۵۱۲ متره استنادي دېوالونو کار هم شامل دی.
5. د کنړ - نورستان سړک: د کنړ - نورستان ۲۲ کیلومتره سړک رغنیزې چارې په دوو برخو کې د ټولګټو وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ قرارداد شوې دي او عملاً جریان لري، چې په لاندې توګه یې تشریح کوو.
   - د کنړ – نورستان لومړي لاټ ۱۱/۷ کیلومتره سړک رغنیزې چارې دامهال د ۴۲ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
   - د کنړ – نورستان دویم لاټ ۱۰/۵ کیلومتره سړک رغنیزې چارې دا مهال د ۱۸ سلنه کاري پرمتګ سره جریان لري.

دغه راز کنړ او نورستان ولایتونو ته د ټولګټو وزارت د سرپرست وزیر د سفر په ترځ کې د کنړ – نورستان سړک د پاتې برخو د کار د پیلېدو په تړاو د خصوصي شرکتونو له مسئولینو سره خبرې شوې دي او عملي کار به یې په نږدې راتلونکي کې پیل شي.

6. د دشت ارچي – کندز د ۲۰ کیلومتره سړک د پاتې برخو د آسفالټ اچونې چارې د ۲۸ سلنه کاري پرمتګ سره جریان لري.
7. د هرات - چشت شریف دویم لاټ ۳۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې تیر کال د ټولګټو وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ قرارداد شوې وې، چې دامهال یې کار عملاً جریان لري.
8. د کندهار- سپین بولدک دویم لین دویم لاټ ۳۹,۶ کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ۷۴ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
9. د لوګر – میدان وردګ سړک ټولټال ۳۱ کیلو متره اوږدوالی لري چې په دوو لاټونو وېشل شوی دی، لومړی لاټ یې ۱۷,۴ کیلومتره اوږدوالی لري چې په یاده برخه کې ۱۳۰۰ متره استنادي دېوالونه او ۱۰ پایې پلګوټي شامل دي او دویم لاټ یې ۱۴ کیلومتره اوږدوالی لري چې په یاده برخه ۸۰۰ متره استنادي دېوالونه او ۲۶ پایې پلګوټي شامل دي او په دواړو برخو کې یې چارې عملاً د بېلابېل کاري پرمختګ سره جریان لري.
10. د قیصار – لامان ۲۵ کیلومتره سړک د افغانستان د حلقوي سړک یوه برخه ده چې رغنیزې چارې یې دا مهال عملاً جریان لري او په اوږدو کې یې ۳ پایې لویو پلونو او ۲۷۰ متره استنادي دېوال هم شامل دی، چې مالي لګښت یې د معدن په بدل کې تمویل کېږي.
11. د ګردیز – زرمت لومړي لاټ ۱۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ۷۵ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
12. د ښکارې درې – بامیان ۱۷۰ کیلومتره سړک د ترمیم او هموار کارۍ چارې د خصوصي سکټور سره قرارداد شوې دي او دا مهال عملاً جریان لري.
13. د پکتیکا – زرمت (ښرنې – مټاخان) ۳۸,۷ کیلومتره سړک رغنیزې چارې څه موده وړاندې پیل شوې او دا مهال عملاً جریان لري.

**د کابل – کندهار لویه لاره:**

ټولګټو وزارت د کابل کندهار لویې لارې د ۴۸۰ کیلو متر سړک د اساسي بیا رغونې چارې په بیلا بیلو برخو کې پیل کړې وې، چې دامهال یې د آسفالټ د لومړۍ او دویمې طبقې چارې په ډېرې برخو کې بشپړې شوې دي او په ځینو برخو کې د دریمې طبقې چارې بشپړې شوې دي او د پاتې برخو د دریمې طبقې د آسفالټ اچونې کار یې دا مهال په ځینو برخو کې په چټکۍ سره جریان لري چې د روان کال تر پایه به بشپړ شي، په یاده پروژه کې د ۱۷۰۰ پایو له ډېرو پلګوټو او د ۴۸ پایو لویو پلونو کار هم پکې شامل و، چې دا مهال د زیات شمېر پلونو او پلګوټو چارې بشپړې شوې دي.

**د یادې لویې لارې بېلابېلې برخې په لاندې ډول تشریح کوو.**

14. له دراني بازار څخه تر زرني سیمې پورې د ۱۷,۹ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۷۴ سلنه کاري پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار تیر کال بشپړ شوی او در دریمې طبقې کارېې دامهال جریان.
15. له زرني سیمې څخه تر سیدآباد ولسوالی پورې د ۱۷,۶ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۸۵ سلنه فزیکي پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار تیر کال بشپړ شوی دی او د درېیمې طبقې د آسفالټ کار به یې سږ کال بشپړ شي د سړک په دغه برخه کې د ۹پایو پلګوټو او ۱۱۰ متره استنادي دیوال کار هم بشپړ شوی دی.
16. له سیدآباد ولسوالۍ څخه تر عزیز کلا سیمې پورې د ۳۷,۶ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۷۴ سلنه کاري پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار تیر کال بشپړ شوی او در دریمې طبقې

کاریې دامهال جریان لري او د سړک په دغه برخه کې د ۸۸ پایو پلګوټو او د درې کیلومتره شولډرو کار هم بشپړ شوی دی.

17. له مقر څخه تر کلات او له پینکندي څخه د مقر بازار تر وروستیو پورې د پنځم لاټ ۳۲ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۸۳ سلنه کاري پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار بشپړ شوی او در دریمې طبقې کاریې به یې روان کال بشپړ شي، د سړک په دغه برخه کې د ۱۲ پایو پلګوټو ۶ عدد واشونو ( معبرونو) کار هم شامل وو، چې اوس بشپړ شوی دی.

18. له نورک پل څخه تر مقر بازار پورې د دویم او څلورم لاټ د ۲۵,۷ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۸۳ سلنه کاري پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچوني کار بشپړ شوی او در دریمې طبقې کاریې دامهال جریان لري د سړک په دغه برخه کې د ۱۳ پایو پلګوټو او یو عدد معبر کار هم بشپړ شوی او د ۱۱۰۰ متر مکعب استنادي دیوال کار جریان لري.

19. له مقر باز ار څخه تر نورک پل پورې د درېیم لاټ د ۲۰ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۸۵ سلنه کاري پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچوني کار بشپړ شوی او در دریمې طبقې کاریې دامهال جریان لري.

20. له کلات څخه تر نورک پورې د لومړي لاټ د ۱۷ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی، چې د ۴۸ سلنه فزیکي پرمختګ سره یې د لومړۍ طبقې آسفالټ اچونې کار بشپړ شوی دی او د دویمې او درېیمې طبقې د آسفالټ کار به یې سږ کال بشپړ شي.

21. له کلات څخه تر نورک پورې د دویم لاټ د ۱۶,۹ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۶۵ سلنه فزیکي پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار تیر کال بشپړ شوی دی او د درېیمې طبقې د آسفالټ کار به یې سږ کال بشپړ شي.

22. له کلات څخه تر شهر صفا پورې د لومړي لاټ د ۱۶,۸ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و، چې د ۵۲ سلنه فزیکي پرمختګ سره یې د لومړۍ طبقې آسفالټ اچونې کار بشپړ شوی دی او د دویمې او درېیمې طبقې د آسفالټ کار به یې سږ کال بشپړ شي.

23. له کلات څخه تر شهرصفا پورې د دویم لاټ ۱۷ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې کار د ټولګټو وزارت او خصوصي شر کت ترمنځ قرارداد شوی و چې د ۷۷ سلنه فزیکي پرمختګ سره یې د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالټ اچونې کار بشپړ شوی دی او د درېیمې طبقې د آسفالټ اچونې کار یې جریان لري.

**د سالنګونو لویه لاره:**

د ا.ا.ا د ټولګټو وزارت د سالنګونو لویې لارې د ۸۰ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې چارې پلان کړې و ی، چې دامهال یې کار په دریو برخو شمالي سالنګ، جنوبي سالنګ او دوشي – خنجان کې جریان لري، چې د تیر کال د پلان شویو برخو کاریې بشپړ شوی دی، چې مالي لګښت یې د ټولپلازا له محصول څخه ورکول کیږي.

24. په تیرو دوو کلونو کې د یادې لویې لارې د تونل، ګالریو او د ګالریو ترمنځ د فاصلو د کانکریټ اچونې او د دوشي - خنجان برخې د ۲۱,۴ کیلومتره سړک څخه د ۷,۷ کیلومتره سړک د لومړۍ

طبقې آسفالټ چارې بشپړې شوې دي او دامهال یاده برخه په ټولیزه توګه ۱۸ سلنه کاري پرمختګ لري.

**د کابل – جلال آباد لویه لاره:**

د کابل – جلال آباد دویم لین سړک، چې شاوخوا ۱۴۷ کیلومتره اوږدوالی لري او له ډلې یې د ۶۵ کیلومتره سړک د ننګرهار او کابل ولایتونو له لورې له وړاندې په کانکریټي ډول رغول شوی و او پاتې ۸۳ کیلومتره یې په درېو بېلابېلو برخو تقسیم شوی.

25. لومړۍ برخه یې ۲۲ کیلومتره اوږدوالی لري او رغنیزې چارې یې تېر کال د ننګرهار ولایت له لوري پیل شوې وې او دامهال یې کار عملاً جریان لري.
26. او د دویمې برخې ۳۲ کیلو متره سړک رغنیزې چارې یې سږ کال د کابل ولایت له لوري د پخواني کانکریټي سړک په دوام پیل شوې دي او دا مهال عملاً جریان لري، چې، په اوږدو کې یې د ۷ پایې لویو پلونو او ۱۱۵ پلګوټو د رغونې کار هم شامل دی او مالي لګښت یې د ټولپلازا له لارې ورکول کیږي.

**د کابل – غزني دویم لین سړک:**

د ا.ا.ا د ټولګټو وزارت د کابل - غزني لویې لارې اقتصادي او ټرانزیټي اهمیت ته په کتو او د پخواني لین سړک څخه د ګڼې ګوڼې د راکمیدو او ترافیکي پېښو د مخنیوي په موخه د یاد سړک رغنیزې چارې په بېلا بېلو برخو کې پیل کړې دي چې دلته یې په لنډه توګه تشریح کوو.

27. له کمپنۍ څخه د میدان وردګ ولایت تر تورو تیږو پورې د لومړي لاټ ۲۴,۵۵کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ټولګټو وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ قرارداد شوې دي او دامهال جریان لري.
28. له ټوپ دښتي څخه تر سیدآباد ولسوالۍ پورې د دریم لاټ ۲۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ټولګټو وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ قرارداد شوې دي او په چټکۍ سره جریان لري.
29. له غزني دروازې څخه د سیدآباد ولسوالۍ تر هفت آسیاب سیمې پورې د ۲۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ټولګټو وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ قرارداد شوې دي، چې دا مهال یې د هموار کارۍ، پلونو او پلګوټو د ساختمان چارې مخ په بشپړېدو دي، چې په نږدې راتلونکې کې به یې د بیس کورس طبقې چارې پیل شي.

د کابل – غزني دویم لین سړک د یادو درېو برخو په اوږدو کې د ۴ پایې لویو پلونو، ۳۱۷ پایې پلګوټو او د یوشمېر استنادي دېوالونو د اساسي رغوني کار هم شامل دی، چې چارې یې د معیاري او انجنیري اصولو مطابق ترسره کیږي.

**دویم اوسپنې پټلی:**

30. د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د لومړۍ برخې رغنیزې چارې د (۸۷) سلنه فزیکي پرمختګ په لرلو سره په چټکۍ سره جریان لري. یاده اوسپنې پټلۍ ټولټال (۴۳) کیلومتره اوږدوالی لري، چې د هرات ولایت په غوریان او زنده جان ولسوالیو کې تیریږي.
31. د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د ۷۵ کیلومتره په اوږدوالي د ریلي او غیر ریلي بیارغونې چارې دامهال جریان لري.

**ساتنه او څارنه:**

**لومړۍ د سړکونو( ساتنه او څارنه):**

ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶هـ.ق کال کې د سړکونو د ساتنې او څارنې په برخه کې ټولټال د ۴۵ پروژو ترمیماتي چارې د څه باندې ۳,۱ میلیارد افغانیو په ارزښت پیل کړې وې، چې ۳۵ یې بشپړې ۴ پروژې ترکار لاندې او پاتې نورې یې د بېلابېلو عواملو له امله ځنډېدلې دي.

په یادو پروژو کې ۵۷۲,۵۱ کیلومتره سړکونه، ۹۷۱ متره پلونه، ۳۲۳ پایې پلګوټې، ۲۹۲۹ متره معبر( واشونه)، ۳۷۱۰,۸ متره سنګ کاري استنادي دېوالونه، ۷۲۹ متره ګبیوني استنادي دېوالونه او ۵۶۲ متره کانکریټي استنادي دېوالونه ترمیم او بیا رغول شوي دي، چې له دې جملې څخه یو شمېر پروژې په لاندې ډول تشرېح کوو:

1. د کابل – جلال آباد لویې لارې اړوند د څرخي پله له دروازې څخه تر لغمان دروازې پورې د سړک، پرافیټ والونو او استنادي دېوالونو د ترمیم او بیارغونه کار د ۲۳میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
2. د کابل کندهار لویې لارې اړوند د عزیزکلا سیمې څخه تر سفندې دښتې پورې د ۲۶/۸ کیلومتره سړک د ترمیم او بیارغونې کار د څه باندې ۳۱/۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
3. د کابل – کندهار لویې لارې اړوند د غشي رباط دویم پل د ترمیم او بیارغونې کار د څه باندې ۱۶/۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
4. د زابل ولایت د شینکۍ ولسوالۍ پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۴۰/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
5. د کابل – کندهار لویې لارې اړوند د حسن کاریز پل د تخریب شوې وې د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
6. د کندهار – هلمند لویې لارې اړوند د لښکرګاه د نهر سراج له مکتب څخه تر هلمند دوراهي پورې د سړک او پلګوټو د بیا رغونې کار د څه باندې ۱۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
7. له ګرشک ولسوالۍ څخه تر سنګیلان سیمې پورې د ۲۹ پایې پلګوټو او ۲ پایې پلونو د ترمیم او بیارغونې کار د څه باندې ۴۹/۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
8. د فراه ولایت فراه رود سړک د ترمیم او بیارغونې کار د څه باندې ۳/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
9. د هرات – کندهار لویې لارې اړوند د فراه ولایت له جوزار سیمې څخه د هلمند ولایت تر سنګیلان سیمې پورې د سړک د ترمیم او داغګیرۍ کار د څه باندې ۳۴/۴ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
10. د هرات – تورغونډۍ پر مسیر د ده شیخ پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۶/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
11. د هرات – تورغونډۍ پر مسیر د پروانه پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۷/۴ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
12. د بادغیس – میمنه سړک د پلونو، د سړک غاړې استنادي دېوالونو د رغونې او سړک د آسفالټ اچونې کار د څه باندې ۶/۲ میلینه او افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
13. د میمنه – بادغیس دویم نمبر سړک د پلونو او استنادي دېوالونو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۰/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
14. د کندز ولایت د پلچراغ او درزاب ولسوالیو اړوند د کبوتر خان کوتل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۲/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
15. د بلخ – جوزجان لویې لارې د ۵۵ کیلومتره سړک او شولډرونو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۳/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
16. د مزارشریف – دره صوف ۴۳/۳ کیلومتره سړک، استنادي دېوالونو، پلګوټو او شولډرونو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۶/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړشوی دی.

17. د کابل – پروان لویې لارې اړوند له کابل دروازې څخه تر جبل السراج پورې د سړک، شولډرونو، پلونو، پلګوټو، استنادي دېوالونو او معبرونو د ترمیم او بیا رغونې کار د ۲۹/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
18. د کندز – تخار سړک د استنادي دېوالونو او ګایډپوسټونو د رغونې کار د څه باندې ۲/۴ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
19. د تخار – بدخشان لویې لارې اړوند د سړک فرش، شولډرونو، واشونو، پلګوټو، سړک غاړې ویالو، استنادي دېوالونو، ګبیونې دېوالونو او معبرونو د ترمیم او بیارغونې کار د څه باندې ۱۵/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
20. د تخار – کندز عمومي مسیر اړوند د سړک فرش، شولډرونو، پلونو، پلګوټو او سړک غاړې ویالو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۵/۵ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
21. د کابل – جلال آباد لویې لارې اړوند د وریښمین تنګي څخه تر درونټې پورې د سړک د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۴/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
22. د جلال آباد – تورخم په مسیر د بټي کوټ پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۲/۵ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
23. د جلال آباد – تورخم په مسیر د سپین خوړ پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۲/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
24. د لعل پور پله ستنو د ساتنې لپاره د کټ اف وال او محافظتي دېوال د ډیزاین ترمیماتي کار د څه باندې ۴۵/۵ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
25. د سپن خوړ پل د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۷/۶ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
26. د کابل – ګردیز پر لویه لار د ۱۶ پایې پلونو د ترمیم او بیا رغونې کار د شاوخوا ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
27. د کابل – ګردیز لویې لارې اړوند د تېرې کوتل په سیمه کې د استنادي دېوالونو د رغونې کار د څه باندې ۱۸/۷ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
28. د کابل – ګردیز لویې لارې اړوند د ګردیز – لوګر سړک د ترمیم او بیارغونې کار د ترمیم او بیا رغونې کار د شاوخوا ۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
29. د ترینکوټ – کندهار ۲۵ کیلومتره سړک د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۹/۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
30. د نورستان ولایت اړوند د هفت چشمه پلګوټې د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۲۶/۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
31. د پکیتاش پنځم نمبر او شهید اندخوی پلونو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱/۹ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
32. د کونړ – نړی پر مسیر د کامتیلي په سیمه کې د بلدروال او واشونو د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۷/۶ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
33. د پلخمري – دوشي مسیر د سورې تیګې او لرخواب په سیمه کې د سړک د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱۴/۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
34. د دایکندي ولایت د پاتو ولسوالۍ اړوند د نیلي – کندهار لومړي لاټ سړک د پراخوالي کار د څه باندې ۸/۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
35. د دایکندي ولایت د پاتو ولسوالۍ اړوند د نیلي – کندهار لومړي لاټ سړک د پراخوالي کار د څه باندې ۶/۶ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.
36. د کابل – کندهار لویې لارې اړوند د غزني ولایت له دوسرکې څخه تر مقر بازار پورې د ۹۶ کیلومتره سړک د ترمیم او بیا رغونې کار د څه باندې ۱/۴ میلیارده افغانیو په ارزښت جریان لري.

37. د پکتیکا ولایت د اداري تعمیر د رغوني کار د څه باندې ۱۷/۳ میلیونه افغانیو په ارزښت جریان لري.
38. د نیمروز – فراه مسیر اړوند د چخانسور ولسوالۍ پل د ترمیم او بیا رغوني کار د څه باندې ۲۰/۴ میلیونه افغانیو په ارزښت جریان لري.
39. د زرنج – دلآرام سړک د دویم نمبر پروژې د پلګوټو او د سړک فرش د پینه کارۍ کار د څه باندې ۲۵/۴ میلیونه افغانیو په ارزښت جریان لري.
40. د کابل – کندهار لویې لارې اړوند د قلات – شهر صفا سړک د ترمیم او بیا رغوني کار چې د ۶۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.
41. د کابل – کندهار لویې لارې اړوند د شهر صفا – مانجه سړک د ترمیم او بیا رغوني کار چې د ۳۳۶ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.
42. د کندهار – هلمند لویې لارې اړوند د باغ پل – هلمند دوراهي سړک د ترمیم او بیا رغوني کار چې د ۷۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.
43. د ایبک – روی دوآب سړک اړوند د ملا علی پل د ترمیم او بیا رغوني کار چې د ۱۷/۸ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.
44. د نرنګ ولسوالۍ اړوند د پشد پل د کټ آف وال او پایې د ترمیم او بیا رغوني کار چې د ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.
45. د نورګل ولسوالۍ اړوند د زیږي بابا پل د ترمیم او بیا رغوني کار چې د څه باندې ۴۷ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی و دا مهال یې چارې ځنډېدلي دي.

**دویم د اوسپنې پټلۍ( ساتنه او څارنه):**

46. د اوزبیکستان د سوګدیناترانس قراردادي شرکت لخوا د قرارداد د شرایطو له مخې، د بلخ ولایت د ټولګټو ریاست د تخنیکي ساحوي ټیمونو سره په همغږۍ د حیرتان – مزارشریف د اوسپنې پټلۍ د ۱۰۶,۵ کیلومتره کرښې د ترمیم، ساتنې او څارنې چارې ترسره شوې دي.
47. د ټولګټو وزارت د تخنیکي ساحوي ټیمونو سره په همغږۍ د پلان له مخې، د آقینې – اندخوی د اوسپنې پټلۍ د ۴۶,۵ کیلومتره کرښې د ساتنې او څارنې چارې بشپړې شوې دي.
48. د هرات ولایت د ټولګټو ریاست د تخنیکي ساحوي ټیمونو سره په همغږۍ د پلان له مخې، د تورغونډۍ د اوسپنې پټلۍ د ۱۳ کیلومتره کرښې د ساتنې او څارنې چارې ترسره شوې دي.
49. د هرات ولایت د ټولګټو ریاست د تخنیکي ساحوي ټیمونو سره په همغږۍ د پلان له مخې، د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د دریېمې قطعې د ۷۰,۵ کیلومتره کرښې د ساتنې او څارنې چارې بشپړې شوې دي.
50. ټولګټو وزارت د آقینې – اندخوی، تورغونډۍ، خواف – هرات او حیرتان – مزارشریف مسیرونو د ساتنې او څارنې لپاره ځینې تجهیزات چمتو کړي دي او ځینې نو یې په تدارکاتي مراحلو کې دي.

**جوماتونه:**

د ۱.۱.۱ ټولګټو وزارت د کابل – هرات لویې لارې اړوند د ۱۴ محرابه مسجدونو ودانیزې چارې د څه باندې ۴۶۷,۷ میلیونه افغانیو په ارزښت له بېلابېلو فزیکي پرمختګونو سره جریان لري.

د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القران والحدیث مولوي هبة الله آخوندزاده حفظه الله د حکم په اساس، ټولګټو وزارت د کابل - هرات لویې لارې اړوند د ۱۴ محرابه مسجدونو ودانیزې چارې چې له دېلې یې ۶ محرابه مسجدونه د کابل – کندهار پر مسیر او ۸ محرابه مسجدونه د کندهار – هرات پر مسیر

له بېلابېلو ودانیزو شرکتونو سره د څه باندې ۴۶۷،۷ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد کړې وي، دامهال یې ودانیزې چارې په چټکۍ سره جریان لري.

1. یاد وزارت د کابل – کندهار لویې لارې اړوند په میدان وردګو ولایت کې د سید آباد ولسوالۍ مسجد د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۴۲ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
2. په غزني ولایت کې د اندړو ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۴،۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۷ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
3. په غزني ولایت کې د آب بند ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۴،۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۸ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
4. په زابل ولایت کې د شاجوی ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۵،۶ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۵ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
5. په زابل ولایت کې د مرکز قلات اړوند مسجد د رغونې چارې د څه باندې ۳۳،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۴۰ سلنه کاري پرمختګ سره جریان لري.
6. په کندهار ولایت کې د دامان ولسوالۍ مسجد رغنیزې چارې د ۳۵،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت، پیل شوې وې؛ دامهال یې ودانیزې چارې ۱۰۰ سلنه بشپړې شوې دي.
7. د کندهار – هرات لویې لارې په اوږدو کې د کندهار ولایت اړوند د میوند بالا ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۲،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل کړی چې ۲۸ سلنه کاریې بشپړ شوی.
8. د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۳،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت چې ۳۰ سلنه کاري پرمختګ لري.
9. د واشېر ولسوالی مسجد د څه باندې ۳۳،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوی چې ۲۴ سلنه کار یې پرمخ تللی دی.
10. د فراه ولایت اړوند د ګلستان ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۲،۶ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل کړی چې اوس مهال ۳۱ سلنه کاري پرمخ تګ لري.
11. د یاد ولایت اړوند فراه رود ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۱،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی ۲۲ سلنه کاري پرمختګ لري.
12. د نیمروز ولایت د خاشرود ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۳۳،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوی، چې ۲۴ سلنه کار یې بشپړ شوی.
13. د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ مسجد د څه باندې ۲۹،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوی، چې دا مهال یې ۱۵ سلنه کار بشپړ شوی دی.
14. ادرسکن اړوند د ادرسکن ولسوالی مسجد رغنیزې چارې د څه باندې ۳۱،۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوی چې دا مهال یې کار ۱۵،۹۰ سلنه تکمیل شوی دی.

دا په داسې حال کې ده، چې د ټولګټو وزارت له لوري د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د ۱۳/۱۰/۱۴۴۴ نیټې د (۳۵۸۴) ګڼې حکم په اساس د لویو لارو په اوږدو کې د هر ۷۰ کیلومتره په واټن سره یو محراب مسجد (په ټول هېواد کې ۷۵ محرابه مسجدونه رغول کیږي)، چې د هر یو مسجد لپاره ۳ جریبه ځمکه ځانګړې شوې ده او په یو وخت کې به ۳۰۰ تنو لمونځ کوونکو چې له دې جملې څخه ۱۷۰ نارینه او ۱۳۰ ښځینه لمونځ کوونکي دي په جلا توګه د اوداسه او لمانځه ځایونه ولري او د هریو مسجد رغنیزې چارې به د یو کال په موده کې بشپړې شي.

### په لویو لارو اوسړکونو کې د ترافیکي نښو او ګارد ریلونو نصبول:

ټولګټو وزارت د څه باندې ۱۶۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د هېواد په بیلا بیلو ولایتونو کې ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو ۱۶ پروژې قرارداد کړې چې د ګڼ شمېر پروژو چارې ترسره شوې دي.

1. د هرات ـاسلام قلعه پر لویه لار د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو پروژه د څه باندي ۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت له خصوصي سکتور سره قرارداد شوي، چې دا مهال یې چارې ۱۰۰ سلنه بشپړې شوې دي.
2. ټولګټو وزارت دپکتیا ولایت اړوند د ګردیز – لوګر او ګردیز – خوست پرلویه لار د ګارد ریل د نصبولو پروژه د ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د له خصوصي سکتور سره قرارداد کړی، چې سل سلنه چارې یې بشپړې شوې دي.
3. د کابل – میدان ښار په عمومي لویه لار د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه چې د ټولګټو وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوي چې ۶۸ سلنه چارې یې پر مخ تللي دي.
4. د پکتیکا ولایت اړوند د خیرکوټ – جانی خیلو د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د شاوخوا ۶ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوي ده چې دا مهال یې چارې ۱۰۰ سلنه بشپړې شوې دي.
5. د لښکرګاه – هلمند دوراهي پورې د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه چې د ټولګټو وزارت لخوا د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې دا مهال یې چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې دي.
6. د خوست ولایت اړوند د شمال کوټي – خلام خان بندر د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوی چې ۸۲ سلنه کارېي بشپړ شوی دی.
7. د تخار ولایت د تخار – کندز عمومي لویې لارې د ترافیکي علایمو او څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو پروژه د څه باندې ۹,۷میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې ۹۰ سلنه کارېي بشپړ شوی دی.
8. د بامیان – میدان ښار پر لویې لارې د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول، د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۱۶ میلیونه افغانیو په ارزښت له خصوصي سکتورسره قرارداد شوې، چې ۹۰ سلنه کار یې بشپړ شوی دی.
9. د کابل – لغمان پر عمومي مسیر، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۵,۹ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې دا مهال یې ۱۰۰ سلنه کار بشپړ شوی دی.
10. د بلخ ولایت اړوند د حیرتان دوراهي – اوزبیکستان هېواد تر سرحد پورې، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول او د سړک د کرښو اچولو پروژه د څه باندې ۱۲,۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټولګټو وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ قرارداد شوې، چې دا مهال یې ۸۰ سلنه کار تکمیل شوی دی.
11. د کندز ولایت اړوند د کندز – بغلان عمومي مسیر ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو پروژه چې د ټولګټو وزارت لخوا له خصوصي سکتور سره د د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې ۶۰ سلنه کارېي تکمیل شوی دی.
12. د زابل ـکندهار لویې لارې ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۵,۸ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې د سړک د نورو طبقو په بشپړیدو سره به یې کار پیل شي.
13. د غزني ولایت اړوند د غزني – زابل ( قلعه عزیز – دشت اسفندې) ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې، چې تر دا مهاله کاري پرمختګ نه لري.
14. د میدان وردک ولایت اړوند د میدان ښار – دراني دروازې پورې ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول، د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه د څه باندې ۱۹,۹ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې چې ۱۸ سلنه کارې مخ پر وړاندې تللی دی.

15. د کندز ولایت اړوند د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول، د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه، چې د تدارکاتي طی مراحلو به حال کې ده.
16. د لوګر – ګردیز عمومي سړک ، د ترافیکي علایمو، څراغونو نصبول،د سړک د کرښو اچولو او ګارد ریلونو د نصبولو پروژه، د څه باندې ۱۷,۶ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوې او ۱۰ سلنه کاري پرمختګ لري.

**د لویو لارو او سړکونو په اوږدوکې تلې( ترازوګان):**

1. د ټولګټو وزارت د سړکونو او لویو لارو په اوږدو کې د سړک د تخریب د مخنیوي او لوړ ټناژ باروړونکو وسایطو د کنټرول په موخه په ټول افغانستان کې ۶۵ تلې فعاله کړې دي چې له دې جملې څخه ۵ پایي تلې په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې نصب او فعالې شوې دي او د دوو پایي نورو تلو کار دا مهال په چټکۍ سره جریان لري چې په نږدې راتلونکې به نصب او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او په تیر کال کې د یوشمېر تلو د ژورو څاګانو د کیندلو، د تلو دواړو خواوو سړکونو د کانکریټ اچولو او د یوشمېر د تلو د تعمیرونو د ترمیم او بیارغونې کارونه بشپړ شوي دي.
2. ټولګټو وزارت په ۱۴۴۶هـ. ق کال کې پلان درلود، چې ۱۷ پایي تلې ډیجیټلي کړي چې له دې جملې څخه یې ۶ پایي تلې ډیجیټلي کړې دي چې د وزارت له مرکز څخه کنټرول کیږي او د نورو تلو د ډیجیټل کولو کار جریان لري.
3. همدارنګه ټولګټو وزارت په روان ۱۴۴۷هـ ق کال کې هم د هیواد په یوشمېر لویو لارو او سړکونو کې د لوړټناژ بار وړونکو وسایطو د کنټرو په موخه د ۱۷ پایي نورو تلو د نصب او فعالولو چارې هم پلان کې لري.

**اوسپنې پټلۍ**

**پیژندنه:**

د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ له مخې، په هیواد کې د خوندي، چټک او همغږې ټرانسپورټي شبکې جوړولو او پراختیا لپاره په (۱۳۹۱) هـ.ش. کال کې د ټولګټو وزارت په چوکاټ کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره رامنځ ته شوه.

په اوایلو کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د ټولګټو وزارت په چوکاټ کې خپل فعالیتونه ترسره کول، وروسته یاده اداره په (۱۳۹۷) هـ.ش. کال کې د ټرانسپورټ وزارت سره یوځای شوه؛ تر دې چې په (۱۳۹۹) هـ.ش. کال کې له ټرانسپورټ وزارت څخه بېله او یوه مستقله بودجوي اداره وبلل شوه.

په (۱۴۰۲) هـ.ش. کال کې د عالیقدر آمیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده (حفظه الله) د (۱۴۴۵/۱۰/۲۹) نېټې د (۵۱۶۵) ګڼې حکم په اساس د اوسپنې پټلۍ اداره بیاځلې ټولګټو وزارت ته ولېږدول شوه او دامهال خپل فعالیتونه د ټولګټو وزارت د اوسپنیزې کرښې معینیت تر چوکاټ لاندې مخې ته وړي.

**پرمختګ:**

د ا.ا.ا په راتګ سره د افغانستان د اوسپنې پټلۍ برخې ته لا زیاته پاملرنه وشول، چې د اوسپنې پټلۍ د تنظیم، مدیریت، ګټې اخیستنې، ساتنې او څارنې، اقتصادي پراختیا او په دې برخه کې د مسلکي پرسونل د روزنې چارې یې لاښې وځلېدې.

په دې سره افغانستان د اوسپنې پټلۍ په برخه کې د ا.ا.ا په هڅو او آغېزناکه لاسته راوړنو د سیمه ایزو او نړیوالو هیوادونو پام ځان ته راجلب کړ.

افغانستان اوسمهال په مستقیم ډول د اوزبیکستان، ایران او ترکمنستان هیوادنو سره د حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات د ۳۹۶ کیلومتره اوسپنیزې کرښې له لاري سوداګریز لیږد-رالیږد او انتقالات

ترسره کوي، چې په غیر مستقیم ډول له دې لارې ریلي انتقالات تر چین، ترکیې، روسیې او قزاقستان هیوادونو پورې هم رسیږي.
د ټولګټو وزارت د اوسپنیزې کرښې معینیت د ریل پټلۍ د قانون سره سم د اوسپنیزو کرښو د رغونې، ترمیم، انتقالاتو، عملیاتو، ساتنې او څارنې، تنظیم، رهبرۍ، او نورو اړوندو خدماتو په برخه کې فعالیتونه ترسره کوي.
د اوسپنیزې کرښې معینیت د هیواد د ریل پټلۍ شبکه د سیمه ییزو او نړیوالو ریلي شبکو سره نښلوي او د سوداګرۍ او تجارتي اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا په موخه آغېزمن خدمات وړاندې کوي.
دغه راز یاد معینیت د سوداګریزو توکو د خوندي لېږد-رالیږد په برخه کې سوداګرو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي او د اوسپنې پټلۍ په فعالیتونو او سیستمونو کې یې د خوندیتوب شرایط رامنځته کړي دي.
**مسیرونه:**

| شمېره | بندر | موقعیت | اصلي کرښه | فرعي کرښه | ټولټال امتداد | د وصل نقطې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حیرتان-مزارشریف | بلخ | ۷۵ کیلومتره | ۳۱ کیلومتره | ۱۰۶ کیلومتره | افغانستان-اوزبیکستان |
| ۲ | تورغونډۍ-هرات | هرات | ۴,۳ کیلومتره | ۸,۷ کیلومتره | ۱۳ کیلومتره | افغانستان-ایران-ترکمنستان |
| ۳ | آقینه-آندخوی | فاریاب | ۲۵ کیلومتره | ۲۲ کیلومتره | ۴۷ کیلومتره | افغانستان-ترکمنستان |
| ۴ | خواف-هرات | هرات | | | ۲۳۰ کیلومتره | افغانستان-ایران |

**حیرتان-مزارشریف:** مسیر ټولټال ۱۰۶ کیلومتره اوسپنیزه کرښه لري، چې ۷۵ کیلومتره یې اصلي او ۳۱ کیلومتره یې فرعي کرښه ده؛ د مزارشریف له هوایي ډګر څخه پیل کیږي، له حیرتان بندر څخه په تېرېدو د اوزبیکستان هیواد په تِرمِذ ښار کې پای ته رسیږي.

**تورغونډۍ-هرات:** مسیر ټولټال ۱۳ کیلومتره اوسپنیزه کرښه لري، چې ۴,۳ کیلومتره یې اصلي او ۸,۷ کیلومتره یې فرعي کرښه ده؛ یاده کرښه افغانستان له ایران او ترکمنستان هیوادونو سره نښلوي.

**آقینه-آندخوی:** مسیر ټولټال ۴۷ کیلومتره اوسپنیزه کرښه لري، چې ۲۵ کیلومتره یې اصلي او ۲۲ کیلومتره یې فرعي کرښه ده؛ له آندخوی سټیشن څخه پیل کیږي او د ترکمنستان هیواد په امام نظر ښار کې پای ته رسیږي.

**خواف-هرات:** مسیر ټولټال ۲۳۰ کیلومتره اوسپنیزه کرښه لري، چې له هرات ښار څخه پیل کیږي او د ایران هیواد په خواف ښار کې پای ته رسیږي. ددې مسیر ځینې برخې لاهم تر کار لاندې دي.

**سفرونه:**
د ټولګټو وزارت د اوسپنیزې کرښې مرستیال محترم الحاج مولوي محمد اسحاق صاحبزاده د ۱۴۴۶ هـ.ق. په جریان کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې د پراختیا او معیاري کولو، د نړیوالو همکاریو او پانګوالو راجذبولو او د ریل پټلۍ د سیمه ییز او نړیوال اتصال د انکشاف په برخه کې ترکیې، چین، ایران، ازبیکستان او ترکمنستان هیوادونو ته رسمي سفرونه ترسره کړي دي.

دبیلګې په توګه یې دغه سفر ته کتنه کوو:

د ا.ا.ا د ټولګټو وزارت د اوسپنیزې کرښې مرستیال محترم الحاج مولوي محمد اسحاق صاحبزاده او مل پلاوي چین هیواد ته د خپل سفر په لړ کې د اوسپنې پټلۍ د نړیوالې اتحادیې (UIC) په ۱۲مه کنګره کې ګډون وکړ. په یاده لویه غونډه کې د ګډونوالو ترمنځ په نړیواله کچه د اوسپنې پټلۍ د وروستیو انکشافاتو، چټکو ریل پټلیو رامنځته کولو، پرمختګونو، ظرفیت لوړونې او عصري ټکنالوژۍ کارونې په تړاو مفصل بحثونه او نظرونه تبادله شول.

**هوکړه لیکونه( تفاهم نامې):**

1. د ا.ا.ا د ټولګټو وزارت د سرپرست وزیر محترم الحاج ملا محمد عیسی ثاني او د قزاقستاني استازي ترمنځ د تورغونډۍ-هرات د اوسپنې پټلۍ په پروژه کې د قزاقستان هیواد د ۵۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د پانګونې د پیل په موخه یوه تفاهمنامه لاسلیک شوه. یاد ریلي دهلیز نه یوازې د افغانستان او قزاقستان په تجارتي او ټرانزیټي برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي، بلکې د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا د هیوادونو ترمنځ د اتصال، سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخه کې د تسهیلاتو رامنځته کولو لپاره مهم او اغېزناک ګام دی.
2. د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ معینیت او ازبیکستان د ریل پټلۍ اداري ترمنځ د حیرتان-مزارشریف مسیر د ترمیماتي چارو تړون د شپږو میاشتو لپاره وغځېد. د یاد مسیر قرارداد چې ټاکلې نېټه یې پای ته رسېدلې وه، خو د ځینو سټېشنونو ترمیماتي چارې لا پاتې وې او په همدې موخه بیاځلي وغځول شو؛ د یادې پروژې ترمیماتي چارې تر دې مهاله (۸۰) سلنه فزیکي پرمختګ لري.
3. د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ مرستیال محترم الحاج مولوي محمد اسحاق صاحبزاده له لوري د افغانستان-اوزبیکستان-قرغیزستان-چین په غونډه کې د افغانستان او چین ترمنځ د څلور اړخیزه ریلي دهلیز تړون د یو کال لپاره وغځول شو.
4. د افغان – ټرانس د اوسپنې پټلۍ پروژه، چې اوږدوالی یې ۶۸۱ کیلومتره دی، د امکان سنجي مطالعاتو تفاهم نامه یې د افغانستان، اوزبیکستان او پاکستان ترمنځ په کابل کې لاسلیک شوه.
5. د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ د (۷) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت تفاهم لیک د هرات-تورغونډۍ سټېشن د پراختیا په موخه لاسلیک کړی دی.
6. او د آقینې – اندخوی د پاتې ۱۰ کیلومتره اوسپنیزې کرښې بشپړول او د اندخوی–شبرغان د ۵۵ کیلومتره اوسپنیزې کرښې د سروې او تفصیلي ډیزاین اړوند د دوه تفاهم لیکونو په تړاو د ترکمنستان هېواد د اوسپنې پټلۍ اداري سره خبرې اترې رواني دي، چې په نږدې راتلونکي کې به لاسلیک شي.

**فعالیتونه:**

1. د حیرتان-مزارشریف د اوسپنې پټلۍ اړوند نایب آباد سټیشن (څلورم-پورټ) د (۵۰) کیلومتره په اوږدوالي په بشپړ ډول فعال او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، چې په فعالېدو سره به ځایي تجارانو ته اړینې آسانتیاوې رامنځ ته شي، د ریلي انتقالاتو فاصله به رالنډه شي او د نفتي او غیر نفتي توکو د تخلیې ځایونه به مشخص شي، چې مخکې دواړه یوازې په حیرتان پورټ کې تخلیه کېدل.
2. په حیرتان بندر کې له چین هېواد څخه د اوسپنې پټلۍ له لارې د چین، قرغیزستان، اوزبیکستان او افغانستان ترمنځ د رامنځ ته شوي اقتصادي دهلیز په چوکاټ کې حیرتان بندر ته د لس زره ۲۰ فوټ کانټینرو سوداګریزو توکو د را رسېدو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس او مراسم ترسره شول.
3. د ا.ا.ا د ټولګټو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا محمد عیسی ثاني په مشرۍ د بلخ-هرات او هرات-کندهار د اوسپنې پټلۍ د ټاکلو مسیرونو د تائیدۍ په تړاو د ۹ وزارتونو او ادارو له مرستیالانو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

**انتقالات:**

1. په ۱۴۰۰ هـ.ش. کال کې د اوسپنیزې کرښې له ۳ بندرونو حیرتان، آقینې او تورغونډۍ له لارې شاوخوا ۳/۵ میلیونه متریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.
2. په ۱۴۰۱ هـ.ش. کال کې د اوسپنیزې کرښې له ۴ بندرونو حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات له لارې شاوخوا ۴/۶ میلیونه متریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.

3. په ۱۴۰۲ هـ.ش. کال کې د اوسپنیزې کرښې له ۴ بندرونو حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات له لارې شاوخوا ۴/۱ میلیونه متریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.
4. په ۱۴۰۳ هـ.ش. کال کې د اوسپنیزې کرښې له ۴ بندرونو حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات له لارې شاوخوا ۴/۴ میلیونه متریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.

| شماره | کال | انتقالات |
|---|---|---|
| ۱ | ۱۴۰۰ هـ.ش. | ۳/۵ میلیون متریک ټنه |
| ۲ | ۱۴۰۱ هـ.ش. | ۴/۶ میلیون متریک ټنه |
| ۳ | ۱۴۰۲ هـ.ش. | ۴/۱ میلیون متریک ټنه |
| ۴ | ۱۴۰۳ هـ.ش. | ۴/۴ میلیون متریک ټنه |

### ظرفیت لوړونه او کار زده کړه:

د ټولګټو وزارت د ټرانسپورټي بنسټونو انستیتوت ریاست په تیر ۱۴۴۶هـ.ق کال کې د یاد وزارت د تخنیکي، فني او مدیریتي کارکوونکو لپاره ۴۳ پروګرامونه دایر کړي دي، چې په پایله کې یې ۳۵۰ تنه کارکوونکو په بېلابېلو برخو کې د ظرفیت لوړونې او روزنې زده کړې ترلاسه کړې دي او د هیواد د بېلابېلو پوهنتونو څخه یې ۸۳ تنه انجنیرانو ته د کار زده کړې او پرکتیک دورې کورسونه دایر کړي دي.

همدارنګه د ټرانسپورټي بنسټونو د انستیتوت ریاست په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د ټولګټو وزارت ۴۱ کارکوونکي د هیواد بېلابېلو پوهنتونونو ته د ماسټرۍ، ظرفیت لوړونې او نورو زده کړېزو پروګرامونو لپاره معرفي کړي دي.

### کاري فرصتونه:

د ټولګټو وزارت په تیر ۱۴۴۶ هـ.ق کال کې د سړکونو د رغونې، بیارغونې، د سړکونو د ساتنې او څارنې، د اوسپنې پټلۍ رغونې، بیارغونې، جوماتونو رغولو، د ترافیکي نښو او څراغونو نصبولو او خط کښلو په پروژو کې شاو خوا 4 لکه تنه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې وه او له یادو پروژو څخه یې ګټه ترلاسه کړې ده.

### د واورو پاکول:

ټولګټو وزارت د ۱۴۰۳هـ.ش کال د ژمي په موسم کې په ۳۰۲ زیان منونکو سیموکې د سالنګونو او ماهیپر په ګډون د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې د څه باندې ۷۵۷۲ کیلومتره سړکونو څخه د واورې پاکې کړې دي.

د ۷۵۷۲ کیلومتره سړک له جملې څخه څه باندې ۴۵۴۲ کیلومتره سړکونه د ټولګټو وزارت د ولایتي ریاستونو له خوا پاک کاري شوي دي او په ( غزني، بامیان، غور، دایکندي، بدخشان، پکتیا، نورستان، پنجشیر، پکتیکا، تخار، سرپل، لوګر، میدان وردګ او فراه) ولایتونو کې ۲۷۲۰ کیلومتره سړکونه چې د ډېرې واورې او زیان منونکو سیمو درلودونکي دي د ټولګټو وزارت د ولایتي ریاستونو د ماشینرۍ سربېره د خصوصي سکټور سره د یو منظم طرزالعمل له لارې د څه باندې ۵۲ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوي وو، چې د ژمي په موسم کې له واورو څخه پاک کاري شوي دي.

### پلانونه:

➢ لومړی سړکونه:

ټولګټو وزارت په ۱۴۰۴ هـ.ش کال کې د تخار ولایت د خواجه غار ولسوالی – دشت ارچي سړک، د خواجه غار – دشت قلعه سړک، د بلخ – شبرغان ( کلفت بندر لویه لار) د ۷۰ کیلومترو په اوږد والي سره، د پنجشیر – تخار ۲۵ کیلومتر سړک، د بګرام – کوه سافي ولسوالی پورې د ۹۰ کیلومتره سړک، د بادغیس ولایت له قلعه نو څخه تر فاریاب ولایت پورې غزیدلی سړک رغول،د کاپیسا ولایت د نجراب، تګاب او اله سای ولسوالیو سړکونو رغول، د خاص ارزګان – ترینکوټ ولسوالی د ۸۰ کیلومتره سړک رغول، د پکتیکا ولایت اړوند د ارګون ولسوالۍ څخه تر سروبي( رباط) سیمې پورې د ۳۸ کیلومتره سړک رغول، د پنجشیر ولایت د آبشار ولسوالی سړک د پاتي برخو کار بشپړول، د کنړ ولایت د اسمار، غازي آباد او ناړی ولسوالیو د سړکونو رغول، د سمنګان ولایت د ایبک رويي دوآب د پاتي ۲۰ کیلو متره سړک رغول، په یو شمیر ولایتونو کې د ټولګټو ریاستونو لپاره د ودانیو رغول، د یو شمیر پلونو رغولو په شمول شاوخوا ۵۰ پراختیا یي پروژې په پلان کې لري.

دغه راز د ساتنې او څارنې په برخه کې د ۱۵۵۹ کیلومتره سړکونو، د ۲۰۷۸ متره پلونو، ۸۴۴ پایپ پلګوټو، ۵۱۳۳ متره معبر(واشونو)، د ۶۵۵۵ متره سنګ کاري استنادي دېوالونو، د ۳۳۱۸ متره ګبیونې استنادي دېوالونو، د ۸۴ متره کانکریټي استنادي دېوالونو او د ۲۷۸۰ متره کانکریټي ویالو په ترمیم او بیا رغونې سره ټولټال د ۹۳ د ساتنې او څارنې پروژو کار په پلان کې لري.

➢ **دویم اوسپنیزه کرښه:**

**د اوسپنې پټلی سروې او ډیزاین:**

1. ټولګټو وزارت په پلان کې لري، چې په فاریاب ولایت کې د آقینې - اندخوی په مسیر کې ۱۰کیلومتره او د خواف - هرات د څلورمې ټوټې دویم فاز د ۴۷ کیلومتره په اوږدوالي سره اوسپنیزه کرښه ورغوي.
2. د کندهار – کابل د اوسپنې پټلی پروژې تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین، چې اوږدوالی یې ۵۱۰ کیلومتره دی، په راتلونکي پلان کې شامل دی.
3. د مزار شریف – هرات د اوسپنې پټلی پروژې مطالعات او امکان سنجي، چې اوږدوالی یې ۶۵۶ کیلومتره دی، د اوزبیکستان هېواد لخوا بشپړ شوي دي او تفصیلي ډیزاین یې تر کار لاندې دی، چې په راتلونکي پلان کې په پام کې نیول شوی دی.
4. د ۱۸۴۷ کیلومتره د امکان سنجي مطالعات، تفصیلي سروې او تفصیلي ډیزاین چارې یې په راتلونکي کاري پلان کې شاملې دي.

**د اوسپنې پټلی ساتنه او څارنه:**

1. د آقینې – اندخوی اوسپنې پټلی د ۴۶/۵ کیلومتره کرښې ساتنه او څارنه ترسره کول.
2. د تورغونډۍ اوسپنې پټلی د ۱۳ کیلومتره کرښې ساتنه او څارنه ترسره کول.
3. د خواف – هرات اوسپنې پټلی د دریېمې قطعې د ۷۰,۵ کیلومتره کرښې ساتنه او څارنه ترسره کول.
4. د خواف – هرات اوسپنې پټلی د څلورمې قطعې د لومړۍ برخې د ۴۳ کیلومتره کرښې ساتنه او څارنه ترسره کول.
5. د خواف – هرات اوسپنې پټلی د دریېمې قطعې لپاره یو عراده کرندار درزین تهیه، تدارک او پیرل.

6. د حیرتان – مزارشریف اوسپني پټلۍ لپاره یو عراده کرندار درزین تهیه، تدارک او پیرل.
7. د تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ په ټولو تمځایونو کې ۱۴ پایې (ضربه ګیر) بوفر نصبول او جوړول.
8. د آقینې – اندخوی د اوسپني پټلۍ د ساتنې او څارنې لپاره یو عراده (پیکپ) تهیه او تدارک کول.
9. د خواف – هرات د دریېمې قطعې د ساتنې او څارنې لپاره یو عراده (پیکپ) تهیه او تدارک کول.
10. د خواف – هرات د دریېمې قطعې لپاره د DMR او مخابراتي سیستم تهیه او تدارک کول.
11. په آقینه – اندخوی تمځای کې د ۵ لیول کراسینګ دستګاوو اساسي ترمیم کول.
12. د آقینې – اندخوی د څلورم تمځای په سرک جغل اچول.
13. د بلخ، فاریاب او هرات ولایتونو د اوسپني پټلۍ د ټولو مسیرونو د ساتنې او څارنې له فعالیتونو څخه په ربعوار (فصلي) ډول څارنه او ارزونه ترسره کول.

**کلیدي پیغامونه:**

- ✓ سړکونه او اوسپنیزې کرښې ملي شتمني ده؛ ساتنه او څارنه یې د ټولو هېوادوالو ملي وجیبه ده.
- ✓ ټولپلازا ( د وسایطو د تګ راتګ څخه د عوایدو راټولول) د هېواد په آبادۍ او د سړکونو په رغونه کې برخه اخیستل.
- ✓ ټولپلازا د سړکونو د رغونې مالي ملاتړ، راځئ د هېواد په آبادۍ کې په کډه ونډه واخلو.
- ✓ د سړکونو او اوسپنیزې کرښې له جوړیدو سره اقتصاد غوړیږي او هېواد د پرمختګ پړلور نږدې کیږي.
- ✓ په لویو لارو کې جوماتونه جوړول هېوادوالوته آسانتیاوې برابرول دي.

**والسلام**